
پلوشه چي د ښوونځي څخه راغله نو مور ورته ووئيل:
جامې بدلي کړه او مرغيو ته دانه واچوه- هغې چي
مرغيو ته دانې واچولې نو په سوچ کې ولاړه، کشکي!
زۀ هم مرغۍ وائ نو څومره به ښۀ وائ-



که زۀ مرغۍ وائ نو اخوا دې خوا به الوتم او سندرې به مې وئیلې - د ښونځي کار به نۀؤ، جامې بدلول او برش کول به هم نۀوو، نۀ به را باندې مور څۀ کار کولو او نۀ به ئې خښم راته کولو -



پلوشه لا په دې سوچونو کښې ډوبه وه چې ورور ورته نارې کړې، پلوشې! ائس کريم وخوره- د پلوشې ائس کريم ډېر خوښ ؤ- پلوشه د قفس خوا کښې ودرېده او ائس کريم خوړل ئې شروع کړل-



کۀ زۀ مرغۍ وم نو ما به څنګه ائس کريم خوړل، د
مور د لاس خوندور پخ کړي به مي څنګه خوړل؟
رنګ په رنګ او ښکلي جامې به مي څنګه اچولائ؟
او خپل غولي غولي و ښتان به مي څنګه ږمنځول-



وروو سره به مې لوبې څنګه کولې؟ د ښوونځي کار به
مې څنګه کولو- پلوشې چې په دې خبرو سوچ وکړو نو
شکرئې و يوست چې زۀ پلوشه يم مرغۍ نه يم -هغې د
مرغۍ جوړېدو خواهش د خپل زړۀ څخه و يوست-



پلوشه پوه شوه چې توله مزه خو په خپل چاپېرچل کې په خوشحالۍ او ازادۍ سره په اوسېدو کې ده- هغې زر زر د قفس څخه مرغۍ ازادې کړې- مرغۍ چې والوتې نو پلوشه ډېره خوشحاله شوه-



پلوشې خپل زړهٔ کي ووئيل چي څنګه مور په ازادۍ سره خپل ژوندکوو نو هم دا رنګ به د مرغيو هم په ازادۍ سره خپل ژوند تېرول خوښ وي- مورهغې ته ووئيل: ته ترټولو ښه پلوشه یې-



**بنيادي پوښتنه**

تاسو په خپل کورکښې د ساتل شوؤ څناورو او مرغانو خيال څنګه ساتئ؟

## د لوستلو صلاحيتونه او حکمت عملۍ

ږغ پوهنه: د هجو ږغونه

د ټکو پانګه: جامې، قفس، الوتم، خوندَور، ارام، ازاد، چاپېرچل

ژب ښوونه: سواليه نښه او کوما "،"

## لېولډ ريډر

په يو ټولګي کې د لوستلو د صلاحيت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، منځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحيتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېولډ ريډر په نوم مختلفې قيصې ليکلې سوي دي- د دې لېولډ ريډر متن په رو رو زيات کړل سوی دی- د لېولډ ريډرز بنيادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د ۲۴ اونيو د پاره د لېولډ ريډر ۸ سېټونه تيار کړل سوي دي- د هر يوه لېولډريډر سېټ د پاره درې اونۍ ټاکلې سوي دي- د هر يو لېولډ ريډر په ځير مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو اړوند مهارتونو کړني ورکړل سوي دي-

د چپايۍ پر وخت د دې موادو د هر ډول غلطۍ څخه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش سوی دی- بيا هم که چيرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره سوه نو مهرباني وکړئ په دې اړه زر تر زره د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ضلعي يا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې مرستې د پاره به موږ ستاسو مننه کوؤ-

## استاذانو د پاره لارښوونې

د لومړیو دریو مخونو څخه وروسته لاندینۍ تفهیمي پوښتني وکړئ-

1. دا قیصهٔ د څهٔ په هکله ده؟
2. ستاسو په خیال پلوشې له مرغۍ ازادول پکار دي که نه؟ تاسو داسې ولې وایاست؟

د نیمي قیصې څخه وروسته لاندینۍ تفهیمي پوښتني وکړئ-

1. په څلورم مخ د کوما "،" او سوالیه نخښه "؟" په ګوته کړئ؟
2. ستاسو په خیال مرغۍ به په خپل ماحول کي خوشحاله وي او که نه ؟ ولې؟

د قیصې په پائ کي لاندینۍ تفهیمي پوښتني وکړئ-

1. ستاسو په دې قیصهٔ کي کومه خبره ډېره خوښه شوه او ولې؟
2. قیصهٔ په خپلو ټکو کي دوباره ووایاست؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امریکائي خلکو په مرسته د امریکې بین الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن سوې ده- دا مواد یو ایس ایډ- پاکستان ریډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تیار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نهٔ ده چي دا د یو ایس ایډ یا د امریکائي حکومت د نظریې عکاسي کوي-